# د ماشومانو مقتل

لیک: جاوید قاضي

ژباړن: سعدالله مېوند

**یادونه:** هو دا د یوه خالص انساني ضمیر دردیدلے اواز دے. یو داسې غږ او یو داسې پېغام چې له سپېڅلي زړۀ راوتلي او په زړۀ باندې اغېزه کوي. هم دغه اغېز او تاثر ؤ چې زۀ ئې د دغه کالم ژباړې ته مایل کړم. او په هم دې نیت ئې د هر انساني وجدان د راویښولو او دې اواز ته د لبیک وئیلو په خاطر پښتو ته راژباړم چې پرې د خپل ضمیر بار سپک کړم لا هم تاسو ټول د لیکوال د مینې،جرات او انساني همدردۍ ملګرتیا او هم غږۍ ته راوبولم په هم دې هیله.

دا د یوې نهایت غریبې نجلۍ داستان دے. هو دا سند دے او دا هماغه د مقتل ښار د سند ایالت په یوه غریبه کورنۍ لوږه او تنده راخوره شوه. کله چې د کور نغري ساړه شي نو بیا لوږه او تنده په وجود کښې د لمبو غوندې غځونې کوي او هغه وخت رارسېږي چې د دغسې معصومو ماشومانو بدنونه په بازار کښې نیلامېږي.



د کنډ کوټ یو غریب پلار خپله لس کلنه لور یو جاګیردار او نیم ملک غوندې سړي ته ور په لاس کړه دغه ملک د کنډ کوټ له روایتونو سره په کراچۍ ښار کښې استوګن ؤ. کۀ څه هم دغه پېښه اوس د سخت تفتیش او څېړنې لاندې ده خو دا خبره رښتیا ده چې له دغې لس کلنې جینۍ سره نږدې اووه کسانو د نشې په حالت کښې جنسي تېرے کړے دے.

کله چې جینۍ له دې ناوړه پېښې وروسته شدیده ناروغه شوه نو بیا هغه ملک چاته چې دغه جینۍ سپارل شوې وه په هم دې ناروغتیا حالت کښې د کنډ کوټ خپل پلرني درشل ته راورسوله. پلار چې خپله نازولې لور ولیدله نو هک پک شو چې هاغه د ګل غوندې لور ئې نۀ خبرې کولے شي. نۀ ئې پر شونډو هغه پخوانۍ مسکا خوره ده. نۀ لوبېږي او نۀ ځان ته حرکت ورکولے شي آخر ولې؟

بالاخر ئې پلار خپله لور تر ښځينه ډاکټرې ورسوله او ډاکټره ورسره د شوي زياتي او جنسي عمل تصديق ورکوي. جينۍ په مزه مزه ښه کېږي او پلار ته خپل ټول سرګذشت بيانوي چې څنګه هغه جاګيردار د هغه زامنو او وريرونو دا لوڅه لېږه کړه او له وجود سره ئې ولوبېدل. هو دا باتور پلار غريب او بې وزله ضرور ؤ خو دومره جرات او شعور ئې درلود چې په آئنده کښې د نورو جينکو سره د دغه ډول غير انساني حرکاتو مخنيوے وکړي او په دې لاره کښې د خپل وس او توان څخه کار واخلي.

د ماشومانو په دې مقتل کښې د قانون او دستور په دې منظر او دې بې نوره سحر کښې په رښتيا چې دا يو ډېر باشعوره او غېرتي پلار دے چې د بې معنې غيرت او روايتونو پروا ئې ونۀ ساتله. هم دا رنګه سلام دے هغه ښاغلي پوليس ته چې د دغې پېښې ايف آئي آر ئې داخل او دا قضيه ئې قانوني مرحلو ته وسپارله.

پرون کۀ د کوم غټ خان او جاګيردار ويډيو وائرل شوې وه خو نن دغه فاقه کش او غريب پلار په خپله د خپلې لور ويډيو ټولنيزو رسنيو ته وسپارله او سمدستي ئې د دغو مالکانو او نوابانو غرور صفر درجې ته راکوز کړو. دا صرف او صرف د يو غيرتي پلار جرات ؤ چې د تند د جاګيرداريت مدعيان ئې په شرمونو وشرمول او د بې ځايه او بې معنې غېرت او روايت پرده ئې ټوټې ټوټې کړه.

هو دې ته ورته به نورې هم ډېرې ميندې او پلرونه وي چې د لوږې او مفلسۍ نه د خلاصون په خاطر به ئې د خپلو زړونو ټوټې د غټانو او خيټورو کورونو ته ورلېږلې وي او چا به مدرسو ته استولي وي چې ګوندې دوه وخته ډوډۍ او سر پناه به ورته مهيا شي. د لوږې تندې او معاشي ذلتونو ښکار دغه کورنۍ خو بس هم دې څه ته مجبوره دي د معصومو جسم سره د لوبېدلو نورې هم ډېرې لارې چارې شته دا نۀ ده چې دا کار به صرف په زور او زبردستۍ سره کېږي. يوې مفلسې او خوارې ماشومې ته څو روپۍ او د لوبو سامان ډېره ستره سرمايه ښکاري هغه معصومه څه پوهېږي چې هو او نه څه معنی لري او هغه څه پوهېږي چې له هغې سره کوم عمل کېږي دا څه دي؟

معلومه نۀ ده چې د پاکستان ستر قاضي القضات به د دې پېښې خبر واخلي او که نه؟ خو زۀ په زغرده اعلان کوم چې دا جينۍ زما لور ده پرون د کندۍ کوټ خاص صاحب زما دغه لور کراچۍ ته بولي وه خو دا ځل به ئې زۀ په خپله کراچۍ ته بيايم او د هنر او تعليم ټول اخراجات به ئې په خپله غاړه اخلم. زۀ غواړم زما دغه لور د سبين محمود ځائې ناستې شي. او د يوې آزادې

ښاري جينۍ په حيث ورته دا هم اراده لرم چې دا دې د مصورۍ له رنګونو سره اشنائي پيدا کړي او په کينوس کښې دې ورسره ولوبيږي. زۀ غواړم د دې نازکې ګوتې د پيانو له پردو سره بلدې کړم کۀ د هغې زړۀ غواړي رقص وکړي بې رقاصه دې شي کۀ غواړي سندرغاړې شي سندرې دې زمزمه کړي او کۀ غواړي ژورنالسته شي نو هم دا لاره دې ونيسي. هو له نن وروسته دا جينۍ زما لور ده او زما پوره باور دے چې تاسو ټول به زما مرسته او ملګرتيا وکړئ.

د ماشومانو په دې مقتل کښې به لا نور بازارونه هم لګيږي په دې مات رامات سماج کښې به لا نورې ويډيوګانې هم مخې ته راځي مونږ لا د زاړه کالو نليزم د سامراجيت او غلامۍ په بقايا ؤ کښې ژوند تيروو. هغوي قامونه او پرګنې غلام ساتل غوښتل او هم دغه خانان او نوابان چې ورته وسيله ګرځول نور د هم دغه پليت کالو نليزم ذهنيت ختمول غواړي او تش په نوم جمهوريت رانسکورول.

☆☆☆

## د کشتۍ چپوګان د صدر ټرمپ په لاس کښې

د ۱۴جون په يو مقامي اخبار کښې د امريکې د صدر بيان د غير ملکي ميډيا مطابق د هغوي د مائيکرو بلاګنګ ويب سائټ ټوئټر پوسټ نه اخستے شوے دے چې صدر ټرمپ وئيلي دي چې د عربو او اسلامي ملکونو قطر ته د دهشت ګردو په تعاون ورکولو د بائيکاټ په صورت کښې د سزا ورکولو فيصله يو مثبت قدم دے.

او امريکه د دغسې سزا ورکولو حمايت کوي د حمايت کولو خو به ئې په خپله رو رو پته ولګي خو د ځينې خلقو دا خيال دے چې د قطر په ځينې ملکونو کښې تجارتي معاملات دي. خصوصاً د ګيس د ډکو سلينډرو په صورت کښې قطر ډير لوئې کاروبار په ځينې ملکونو کښې کوي. په دغه کاروبار امريکه په خپله قبضه کول غواړي او د اسلحې د مارکيټ پيدا کولو دپاره هم لاس او خپې وهل د هغوي د مفاداتو برخه ده. او خصوصاً په عربي ملکونو کښې د يو جنګ په ذريعه نۀ يوازې نوي پولې پټې جوړول غواړي بلکې د اسرائيلو مفاداتو ته هم يو مستقل شکل ورکول غواړي او ځکه ځينې ورېې خبرې لويول ئې اوس ځائې هم نيسي ځکه چې سعودي حکمرانان هم پکښې نۀ يوازې خپله بقاء وينې بلکې دغلته چې هغوي په نورو عربي او اسلامي ملکونو د کومې مشرۍ ته د يو طاقت د حصول کوم خوبونه ويني د هغې ادراک هم امريکې د مخکښې نه کړے دے او اوس وخت راغلے دے چې د هغې نه په پوره ډول استفادې وکړي.